**د قراداد ورکولو د پرېکړې په اړه خبرتیا**

**موضوع**: د خالد سبحان تجارتی شرکت ته د قرارداد ورکولو د پرېکړې خبرتیا

د تدارکاتو قانون د درې څلويښتمي مادې د دويمي فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د افغانستان بانک غواړي څو د دې بانک د خدماتو لوی آمریت کارکونکو لپاره د پسرلني البسی چمتو او تدارک کولوقرارداد د خالد سبحان تجارتی شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د 46893 شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعيت يې د ارزان قيمت، کابل په مرکز کې دی. د قرارداد ټولیزه بیه (829،334) اته سوه نه ويشت زره دری سوه او څلور دیرش افغانی ده.

د حقيقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نيوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمي مادې سره سم خپله نيوکه په ليکلي بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپريدو له نېټې تر اوو تقويمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمريت ته، چې په ابن سينا واټ کې موقعيت لري، وسپاري.

دا خبرتيا د قرارداد د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړيدو به قرارداد منعقد نه شي.